ماته جنت او دوزخ راوښودل شول، او ما د ښه او بد په برخه کې لکه د نن ورځې په څېر هېڅکله داسې روښانه څه نه دي لیدلي، که تاسو په هغه څه پوهېدئ چې زه پرې پوهېږم، نو تاسو به لږ خندلي او ډېر به مو ژړلي وو

د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغه د صحابه کرامو په اړه څه خبرې ور ورسېدې، نو خطبه یې وکړه او ویې ویل: "ماته جنت او دوزخ راوښودل شول، او ما د ښه او بد په برخه کې لکه د نن ورځې په څېر هېڅکله داسې روښانه څه نه دي لیدلي، که تاسو په هغه څه پوهېدئ چې زه پرې پوهېږم، نو تاسو به لږ خندلي او ډېر به مو ژړلي وو" هغه وویل: د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ملګرو د دې په پرتله سخته ورځ نه وه راغلی وایي: "دوی خپل سرونه پټ کړل او ژړل یې وایي: "بیا عمر ودریږد او ویې ویل: 'مور په الله تعالی د رب، په اسلام د دین او پر محمد صلی الله علیه وسلم د نبي په توګه راضي یو، وایي: نو هغه سړی ودریږد او ویې ویل: زما پلار څوک دی؟ هغه وویل: "ستاسو پلار فلانکی دی، بیا دا آیت نازل شو: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} [المائدة: 101]. ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د داسې څیزونو په باره کې تپوس مه کوئ چې که تاسو ته ظاهر کړی شي (،نو) تاسو به خفه کړي.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ملګرو په اړه یو څه واوریدل، هغه دا چې دوی له هغه څخه ډېرې پوښتنې غوسه شو، وعظ یې وکړ او ویې فرمایل: ماته جنت او دوزخ راوښودل شول؛ نو هېڅکله مې دومره‌کولې، نو هغه خبر نه و لیدلی لکه نن مې چې په جنت کې ولید، او نه مې دومره ډېر شر لیدلی و لکه نن مې چې په اور کې ولید، او که چېرته تاسو هغه څه لیدلی وای چې ما ولیدل، او په هغه څه پوهېدئ چې زه پرې په پوهېږم د هغه څه له مخې چې ما نن ولیدل او له نن ورځې مخکې مې لیدلي وو، نو ډېر به نرم او مهربان شوي وئ، خندا به مو لږه او ژړا به مو زیاته شوې وه. انس رضي الله عنه وویل: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرو داسې سخته ورځ نه وه راغلې، نو دوی خپل سرونه پټ کړل او د زیاتې ژړا له امله یې زړبروي ختل، هغه ژړا چې له شدت له وجې له پوزې راوځي. نو عمر رضي الله عنه ودریږد او ویې ویل: مونږ په الله تعالی د رب، په اسلام د دین او په محمد صلی الله علیه وسلم د پېغمبر په توګه راضي یو. وایي: نو هغه سړی ودریږد او ویې ویل چې: زما پلار څوک دی؟ هغه وویل: «پلار دې فلانی دی» نو دا آیت نازل شو: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} (اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د داسې څیزونو په باره کې تپوس مه کوئ چې که تاسو ته ظاهر کړی شي (،نو) تاسو به خفه کړي). [المائدة: 101].

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4814